د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۱۵ سپتمبر ۲۰۲۰

# ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پرېکړه لیک

**د امنیت شورا له خوا د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۵ نېټه د هغې په ۸۷۵۹ ناسته کې تایید شو**

*د امنیت شورا*

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پرېکړه لیکونو په ځانګړي ډول د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) شمېره پرېکړه لیک *په یادولو سره* د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۷ نېټې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت تمدیدوي،

د هغه رول پر اهمیت په *ټينګار کولو* سره چې ملګري ملتونه يې په افغانستان کې سولې او ټیکاو ته په ودې ورکولو کې لوبوي، له بلې خوا همدارنګه هغو ننګونو ته په *رسیدګي کولو* له کومو سره چې هیواد او وګړي يې مخ دي په تېره بیا د کوویډ-۱۹ وبا، د دې *په منلو* سره چې د دغې وبا اغیز د افغانستان روغتیایي سیستم، ټولنیز-اقتصادي او بشري وضعیتونه له څرګندې ننګونې سره مخ کړي او د خوړو ناورین لا پسې ناوړه کوي، او د ملګرو ملتونو له خوا د کوویډ-۱۹ د بشري غبرګون د نړیوال پلان د پیلولو *په منلو* سره کوم چې وګړي د غبرګون په مرکز کې واقع کوي، او همدارنګه د هغو هڅو او تدابیرو په *پېژندلو* سره کوم چې افغان دولت کوویډ-۱۹ ته په ځواب ویلو کې ترسره کړي،

د افغانستان د خودمختارۍ، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي یووالي، او دغه راز له افغان دولت او وګړو سره د خپل دوامدار ملاتړ لپاره د خپلې پیاوړې ژمنې په *بیا تاییدولو* سره،

په دې *پوهېدلو* سره چې یوه پایښتونکې سوله یوازې د افغان شموله، د افغانانو په مشرتابه او مالکیت د یوه هر اړخیز سیاسي بهیر له لارې تر لاسه کېدای شي چې موخه يې د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند او ټول شموله سیاسي حل وي څو په افغانستان کې جګړه پای ته ورسېږي، او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د اهمیت *په بیا تاییدولو*، او همدارنګه د افغانستان د ټولو سیمه ییزو او نړیوالو شریکباڼو د هڅو په *هرکلي کولو* سره او د بین الافغاني مذاکراتو په تسهیلولو کې د افغان دولت او نورو ټولو افغان فعالینو د هڅو *په درک کولو* سره،

د مېرمنو، ځوانانو او قومي، مذهبي او د نورو لږکیو په ګډون سره د سولې د یوې ټول شموله او مهمې پروسې په *غوښتلو* سره او د دې په *داګه کولو* سره چې اقتصادي، ټولنیزې، سیاسي او پراختیایي لاسته راوړنې چې په تېرو ۱۹ کلونو کې تر لاسه شوي او دغه راز بشري حقونو ته درناوي په ځانګړي ډول د ښځو، ماشومانو او لږکیو هغه ته، باید خوندي شي او دوام ومومي،

د نړیوالې همکارۍ د یوه پلاټفورم په څېر د خپل هیواد د دریځ د غښتلي کولو لپاره د افغان دولت او وګړو د غوښتنې په *بیا یادولو* سره، او په دې برخه کې د پایښت لرونکي پراختیا، سیمه ییز اتصال او بیا رغونې په ترسره کولو کې کوم چې په افغانستان کې د ټیکاو او اقتصادي ښېرازۍ د ډاډمنولو لپاره خورا مهم دي، د سیمه ییزو او نړیوالو شریکباڼو او سازمانونو د هڅو *په هرکلي کولو* سره،

د یوه سوله ییز، خوندي، با ثباته او ښیرازه افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې له دوامدار ملاتړ څخه په *هرکلي کولو* او په جینوا کې د افغانستان د ډونرانو په راتلونکي کنفرانس کې د نړیوالې ټولنې او افغان دولت ترمنځ د ستراتیژیکې اجماع او ژمنې د بیا نوي کېدو په *تمې کولو* سره،

په افغانستان کې د تاوتریخوالي د دوامداره لوړوکچو په ځانګړي ډول د ولسي مرګ ژوبلې د شمېر په اړه د خپلې ژورې اندېښنې په *ښکاره کولو* او د تاوتریخوالي د راکمولو لپاره د دوامدارو هڅو پر اهمیت له *ټینګار کولو* سره،

پر دې سربېره د هغه ګواښ په اړه د خپلې ژورې اندېښنې *په ښکاره کولو* سره چې تروریزم افغانستان او سیمې ته پېښ کړی، په افغانستان کې د القاعده، د عراق او شام د اسلامي دولت او دغه راز د نورو نړیوالو تروریستي سازمانونو او له هغوی سره د تړلو ډلو د دوامدار شتون په اړه د خپلې جدي اندېښنې *په څرګندولو*، په سختو تورو د ټولو تروریستي فعالیتونو او تروریستي بریدونو *غندلو* سره، د دې د ډاډمنولو پر اهمیت د *بیا تاییدولو* سره چې د افغانستان جغرافیا نه باید د القاعده، د عراق او شام د اسلامي دولت یا نورو نړیوالو تروریستي ډلو له خوا وکارول شي چې له امله یې بل هیواد وګواښل شي یا وربانديې برید ترسره شي، او دا چې نه طالبان او نه هم کومه بله ډله یا فرد نه باید له هغو تروریستانو سره مرسته وکړي چې د بل کوم هیواد پر خاوره فعالیت کوي،

له افغان حکومت سره په ظرفیت جوړونه کې په ځانګړي ډول د افغان ملي پولیسو په ګډون د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د هیواد په ساتنه او له تروریزم سره د هغوی په جګړه کې د ملاتړ پر اهمیت په *ټینګار کولو* سره،

په افغانستان کې د ناقانونه نشه یي توکو پر کرنه، تولید، سوداګرۍ او قاچاق د اندېښنې په *څرګندولو* سره کوم چې لا اوس هم په سیمه کې او له هغې هاخوا سوله او ثبات له ګواښ سره مخ کوي، له دغه ګواښ سره د مبارزې په پار له دولتونو د نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ د غښتلي کولو په *غوښتنې سره*، او په دې زمینه کې له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د دفتر د مهم رول په *درک کولو* سره،

د هغې کمېټې چې د امنیت شورا د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) شمېره پرېکړه لیک له مخې جوړه شوې د روان کار او د هغې د تحلیل کوونکي ملاتړ او بندیزونو د څارنې د ټیم په ګډون له دغې کمېټې سره د افغان حکومت او یوناما د دوامداره همکارۍ *په ملاحظه کولو* سره،

۱. د سرمنشي د ۲۰۲۰ کال د اګست د ۱۸ نېټې د راپور(S/2020/809) *هرکلی کوي*؛

۲. له افغان دولت او وګړو سره د ملګرو ملتونو د ملاتړ د اوږد مهالې ژمنتیا لپاره خپله قدرداني *څرګندوي* او یو ځل بیا د سرمنشي له ځانګړي استازي سره د خپل ملاتړ *یادونه کوي*، او پر دې اړتیا *ټینګار کوي* چې د یوناما لپاره د دوامداره او مناسبو سرچینو برابرول ډاډمن شي څو خپل ماموریت ترسره کړي؛

۳. د سپارل شویو دندو، لومړیتوبو او د کوویډ-۱۹ وبا پرمهال په ځانګړي ډول د یوناما د اړوندو منابعو په تطبیق کې د یوناما د روانو هڅو *هرکلی کوي*، او څرنګه چې یې په ۲۵۳۲ (۲۰۲۰) پرېکړه کې ملاتړ شوي د نړیوال اوربند لپاره د سرمنشي د غوښتنې د سپارښتنو د تطبیق *غوښتنه کوي*؛

۴. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د قطر په پلازمینه دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل *هرکلی کوي*، د مذاکراتو لوري په کلکه د باور جوړونې د تدابیرو لکه په تاوتریخوالي کې لا زیات کموالي، د خبرو اترو دوام *ته هڅوي*، پر دې سربېره دواړه لوري د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند او د یوه ټول شموله سیاسي حل په پار څو په افغانستان کې جګړه پای ومومي په ښه نیت یو له بل سره تعامل ته *هڅوي*، او د ۲۵۱۳ (۲۰۲۰) شمېره پرېکړه لیک د تطبیق پر اهمیت ټینګار کوي؛

۵.	پرېکړه کوي چې د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر تر ۱۷ نېټې پورې د یوناما ماموریت لکه څرنګه چې یې په خپلو ۱۶۶۲ (۲۰۰۶)، ۱۷۴۶ (۲۰۰۷)، ۱۸۰۶ (۲۰۰۸)، ۱۸۶۸ (۲۰۰۹)، ۱۹۱۷ (۲۰۱۰)، ۱۹۷۴ (۲۰۱۱)، ۲۰۴۱ (۲۰۱۲)، ۲۰۹۶ (۲۰۱۳)، ۲۱۴۵ (۲۰۲۱۴)، ۲۲۱۰ (۲۰۱۵)، ۲۲۷۴ (۲۰۱۶)، ۲۳۴۴ (۲۰۱۷)، ۲۴۰۵ (۲۰۱۸)، ۲۴۶۰ (۲۰۱۹)، ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) شمیره پرېکړه لیکونو کې مشخص شوی، تمدید کړي.

۶.	پر دې سربېره پرېکړه کوي چې پر لاندې طرح شویو لومړیتوبونو له ځانګړې تمرکز سره، یوناما او د سرمنشي ځانګړی استازی به د هغوي د ماموریت په ساحه کې پر یوه داسې کړنلار چې له افغان خپلواکۍ، مشرتابه او مالکیت سره په سمون کې وي له افغان حکومت سره په بشپړه همکارۍ کې او له اړوندو نړیوالو اعلامیو سره په تطابق کې د نړیوالو ملکي چارو رهبري کول او همغږي کول جارې ساتي:

(الف)	که یې چېرې غوښتنه وشي، له افغان حکومت سره په نږدې سلا مشورو کې د افغانانو په رهبرۍ، د هغوي په مشرتابه او مالکیت د سولې پروسې لپاره عامه پوهاوي او ښې هڅې برابروي، په ځانګړي ډول د دې په پام کې نېولو سره چې د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پیل شوي، د افغان اساسي قانون په چوکاټ کې او د نورو هغو تدابیرو او طرز العملونو تطبیق ته له بشپړ درناوي سره چې د امنیت شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) او نورو اړوندو پرېکړه لیکونو له خوا معرفي شوي، د باور جوړونې د اقداماتو وړاندیز او ملاتړ کوي؛

(ب)	له افغان دولت سره په نږدې سلا مشوره او همغږۍ کې، له سازمان سره د راتلونکو پر وخت، باوري، رڼو او افغان شموله ټاکنو په ترسره کولو کې مرسته کوي، له انتخاباتي ادارو سره له نږدې کار کوي، له هغوي سره د مدیریت د یوې پیاوړې او شفافې پروسې په وړاندې کولو کې مرسته کوي، د افغان دولت د انتخاباتي اصلاحاتو د هڅو، د انتخاباتي پروسې په پایښت، ربښتنولۍ او ټول شمولیت په ملاتړ کې د نړیوالې ټولنې هڅې همغږې او غښتلې کوي، همدارنګه خپلې هڅې زیاتوي څو د انتخاباتو د مدیریت ادارو او په دغې پروسه کې د ښکېلو نورو افغان ادارو لپاره ظرفیت جوړونه او تخنیکي مرسته برابره کړي؛

(ج)	د څارنې او همغږۍ د ګډ بورډ د شریک رئیس په څېر، د روانې پراختیا د ملاتړ او د حکومت د اصلاحاتو د اجنډا د تنظیمولو، د منابعو د بسیجولو، د تسهیل کوونکي او د پراختیایي پالیسۍ د غونډ ځایونو د ګډ رئیس په څېر د نړیوالو ډونرانو او ادارو د همغږۍ په ګډون د نړیوالې ټولنې له خوا د افغانستان د پراختیایي او حکومتولۍ لومړیتوبونو همغږي شوي ملاتړ ته وده ورکوي، په ورته وخت کې د تعقیب لپاره نړیوال شریکباني همغږي کوي په ځانګړي ډول د معلوماتو د شریکولو له لارې، او له هڅو سره مرسته کوي څو د مرستې د کارونې احتساب، روڼتیا او د لګښت د موثریت په ګډون اغیزمنتوب زیات شي، له هغو ژمنو سره سم چې په ۲۰۱۸ کال کې د جنیوا په کنفرانس کې ترسره شوي او کومې چې باید په جنیوا کې د افغانستان د ډونرانو په راتلونکي کنفرانس کې له سره وکتل شي؛

(د)	ټیکاو او سولې ته د ودې ورکولو په موخه د سیمه ییزې همکارۍ ملاتړ کوي، همدارنګه له افغانستان سره د آسیا په زړه کې د خپل رول په کارولو کې مرسته کوي څو سیمه ییزې همکارۍ او اتصال ته وده ورکړي، او دا چې د یوه ښېرازه افغانستان لپاره کار وکړي، تر لاسه شوې لاسته راوړنې دوام وکړي او د روڼتیا، پرانیستوب او ټول شمولیت پر بنسټ د اتصال په اړه مشارکت ته وده ورکوي، د ډیالوګ او همکارۍ د پیاوړي کولو او په سیمه کې د اقتصادي پراختیا د ګډو اهدافو د ترسره کولو په پار د ګډو هڅو هرکلی کوي؛

(هـ)	د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر په ملاتړ د بشري حقونو په ساتنه او وده کې د افغان دولت، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، او مدني ټولنې د ظرفیت همغږي کول او پیاوړي کول جاري ساتي، همدارنګه له افغان دولت او اړوندو نړیوالو او ځایي نا دولتي ادارو سره همکاري کوي چې د ولسي وګړو وضعیت وڅاري،

د هغوي د ساتنې د ډاډمنولو هڅې همغږې کړي، توقیف ځایونه او له آزادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره چلند وڅاري، احتساب ته وده ورکړي، له افغان حکومت او شریکباڼو سره په نږدې سلا مشوره کې د قضایي او غیر قضایي پروسو [اجراآتو] د جوړولو او تطبیق په اړه سلا مشوره ورکړي څو د بشري حقونو د پراخې کچې د سرغړونو او تیریو میراث او همدارنګه نړیوالو جرمونو ته رسیدګي وشي او د هغوي د بیا پېښیدو مخنیوی وکړي او د افغان اساسي قانون او نورو هغو نړیوالو تړونونو چې افغانستان یې غړی دولت دی د بنسټیزو آزادیو او بشري حقونو د احکامو په ځانګړي ډول هغه چې له بشري حقونو د ښځو د بشپړ برخمن کېدو په اړه دي، د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون په ګډون، په بشپړ تطبیق کې مرسته وکړي؛

(و) په دې برخه کې د سولې د خبرو اترو، په ملي او ځایي کچه د سولې رامنځ ته کولو د عمومي ستراتیژۍ ګانو په ګډون، د جنډر د برابرۍ او د ښځو او نجونو د ځواکمنتیا، زده کړو، بشري حقونو او د بشپړ، خوندي، مساوي، موثر او مهم ګډون، تعامل او د پرېکړې نېولو په ټولو کچو کې د ښځو د مشرتابه د اهمیت ملاتړ کوي، پر افغان دولت او نړیوالې ټولنې غږ کوي چې ۱۳۲۵ شمېره د عمل ملي پلان په بشپړ ډول تطبیق او تمویل کړي او له جنسي او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په ګډون د ولسي وګړو په تېره بیاه د ښځو، ماشومانو، داخلي بېځایه شویو وګړو او لړکیو ساتنه او دا ډاډمن کړي چې د دغه تاوتریخوالي او تیریو عاملین د قانون منګولو ته سپارل شوي؛

(ز) د ماشومانو په وړاندې د سرغړونو او ناوړه ګټې اخېستنې په اړه د راپور ورکولو په موخه ظرفیت پیاوړي کوي، او د هڅو ملاتړ کوي چې له جګړې څخه د اغیزمن شویو ماشومانو ساتنه غښتلې کړي، د جګړې له ټولو ښکېلو لورو سره د تعامل په ګډون څو مشخصې ژمنې او تدابیر ترسره کوي څو د ماشومانو په وړاندې د سرغړونو او ناوړه ګټې اخېستنو مخه ونیسي او د ماشومانو د ګمارنې د پای ته رسولو او مخنیوي په اړه د عمل پلان او لار نقشې د چټک او بشپړ تطبیق په اړه له افغان دولت سره د دوامدار ډیالوګ جاري ساتي؛

(ح) د حکومتولۍ او قانون واکمنۍ په اړه د خپلو ژمنو په پوره کولو کې د افغان دولت له هڅو ملاتړ کوي، د دې په ګډون چې په ټول هیواد کې انتقالي عدالت، د بودجې تطبیق او له اداري فساد سره مبارزه د سولې د رواني پروسې یو مهم عنصر ګڼل کېږي؛

(ط) د داخلي بېځایه شویو وګړو لپاره د مرستې په برابرولو او د هغوي په ساتنه کې ملي او ځایي چارواکو ته د مناسب ملاتړ د برابرولو او د داسې شرایطو رامنځ ته کولو په ګډون چې د داخلي بېځایه شویو وګړو او کډوالو لپاره خپلو ټاټوبو ته د خپلې خوښې، خوندي، با وقاره او پایښت لرونکې ستنېدنې یا د ځایي ادغام یا مېشتېدنې لپاره مساعد وي، یادو موضوعاتو ته پر پایښت لرونکو حل لارو له ځانګړي تمرکز سره، د اړمنو افغانانو په ملاتړ او د بشري اصولو سره په سمون کې د بشري مرستو د رسولو هڅې همغږې او تسهیلوي او بشري مرستو ته د لاس رسي د ښه کولو لپاره کار کوي؛

(ی) د یوناما د مناسب شتون له لارې او د افغان دولت د هڅو په ملاتړ کې، له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې له دفتر سره غښتلې شوې همکارۍ ته وده ورکوي؛

(ک) چېرې چې مناسبه وي له غیر جګړه ییز پرېکنده ملاتړ له ماموریت سره د ناټو او افغان دولت او همدارنګه د ناټو د لوړ پوړي ملکي استازي ترمنځ د توافق شویو موضوعاتو په اړه له نږدې همغږي او همکاري کوي؛

۷. د یوه "واحد ملګرو ملتونو" د تګلارې پر بنسټ او له افغان حکومت سره په نږدې سلا مشور او همغږۍ او د دولت لومړیتوبونو په ملاتړ کې په ټولو ولایتونو کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو د دوامدار او مناسب شتون پر خورا مهم اهمیت ټینګار کوي؛

۸.	پر یوناما او ځانګړي استازي غږ *کوي* چې خپلې هڅې لا زیاتې کړي څو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د اړوندو ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو ترمنځ پراخ همغږیتوب، همکاري او موثریت د دې په پار تر لاسه شي چې د افغان دولت د اصلاحاتو له اجنډا سره په بشپړ تطابق کې د هغوي ډله ییز موثریت زیات شي، او له افغان دولت سره په بشپړه همکارۍ کې د نړیوالو ملکي هڅو رهبري کول جاري وساتي چې موخه یې د افغان ادارو د رول غښتلي کول دي څو خپل مسوولیتونه ترسره کړي؛

۹.	پر ټولو افغان او نړیوالو لورو غږ *کوي* چې له یوناما سره د هغې د ماموریت او هڅو په تطبیق کې همکاري وکړي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو او له هغوي سره د تړلو پرسونلو امنیت او د خوځښت آزادۍ ته وده ورکړي، د دې *یادونه کوي* چې د یوناما کارمندان په ناوړه او پیچلي امنیتي او روغتیایي چاپیریالونو کې اعزام شوي او د تدابیرو پر اهمیت *ټینګار کوي* څو د ماموریت له خوندیتوب، امنیت او روغتیا ملاتړ څخه ډاډ تر لاسه شي؛

۱۰.	د دې *غوښتنه کوي* چې سرمنشي دې د امنیتي وضعیت په ګډون د افغانستان د تحولاتو په اړه شورا ته په هرو دریو میاشتو کې راپور ورکړي، او په خپلو راپورونو کې دې د ځایي کچې په ګډون د یوناما د ماموریت د تطبیق د پرمختګ او په دغه پربکړه لیک کې د ځای شویو لومړیتوبونو د اندازه کولو او څرک معلومولو لپاره د وضع شویو معیارونو په وړاندې د ترسره شوي پرمختګ ارزونه شامله کړي؛

۱۱.	*پربکړه کوي* چې د موضوع په اړه ځان په فعال ډول با خبره وساتي.

---